انجنير اردلان زماني

جنوري ۱۹مه، ۲۰۲۱

# دمولانا عبدالخالق اخلاص استقلال امانيه او سيف الامان تاريخي کتابونه

کونړ د ننګونو او عظمتونو هغه ټاټوبی دی چې د تاريخ په اوږدو کې يې نه يوازې داسې ستر اتلان زيږولي چې د وخت ستر استعماري طاقتونه يې په ګونډو کړي بلکې په خپل ځلانده اسمان کې يې داسې ستوري هم را ځلولي چې رڼا او ځلا يې نړۍ ته ښکلا او تجلا بخښلې ده. د دغو نوميالیو شخصيتونو له ډلې څخه يو هم مرحوم عبدالخالق اخلاص صاحب ؤ.

د ارواښاد اخلاص صاحب شخصيت مختلف ابعاد درلودل. هغه نه يوازې دا چې يو ديني عالم، اديب، ليکوال او خوږژبی شاعر وو، بلکې په هيواد او خپلواکۍ مين يو سپاهي او يو مؤرخ او واقعه نګار يا د پيښوليکونکي هم وو. زه غواړم د مولانا اخلاص صاحب په دوو مهمو تاريخي آثارو «استقلال امانيه او سيف الامان »يو څه لنډه رڼا واچوم.

مولانا اخلاص صاحب د افغانستان د خپلواکۍ يعنې افغان – انګليس په دريمې جګړې کې ګډون کړې او د ارنوۍ - بريکوټ او چترال د جبهې يا د استقلال د ځلورمې جبهې د سترګو ليدلې حال يې په يوه منظوم اثر کې خپور کړې چې د «استقلال امانيه »او «استقلال د ځلورمې جبهې »په نومونو يې پيژنو.

**استقلال امانيه**




د استقلال امانيه په کتاب کې اخلاص صاحب د خپلواکۍ په جګړه کې د کونړ د ولسونو د ګډون تفصيل او ميړانه بيانوي. دا کتاب د لومړي ځل دپاره د غازي امان الله خان په دوره کې (۱۳۰۲ لمريز کال) په پنډۍ کې چاپ او له پيښوره خپور شوی وو.

په ۱۱۰ مخونو کې د استقلال امانيه اثر په اصل کې د «شمشير امان »او «ګلشن رنګين »په نامه د دوو رسالو مجموعه ده.

په شمشير امان کی د ځينو مغلی پاچاهانو، احمد شاه بابا او تيمورشاه تر لنډې يادونې ورسته د افغانستان د خپلواکی د ګټونکی غازی امان الله خان د غزاوو، مجاهدو او هيواد پالنې، ورپسی په ۱۹۱۹م کال کی د هيواد د خپلواکی په جګړه کی د چترال د جبهی د شهيدانو، د غازی مير زمان خان د سربښندونو اوله انګريزانو سره د سولې او امانی حکومت د غړو او کارنامو په هکله خبری شوی دی او په تيره بيا د غازی امان الله خان لخواد غازی ميرزمان خان په نوم رسمی فرمانونه پکی په پښتو نظم اړول شوی دي.

گلشن رنګین د ارنوی د غزا د چاربیتي په ګډون د بیلا بیلو کسانو په تیره بیا د غازی میرزمان خان د لوړو اخلاقو په ستاینه او د خپلواکۍ په جګړه کی د هغه د سرښندونکو مبارزو په اړه د سید عبد الغفار پاچا صاحب لخوا په نظم لیکل شویدی.

د مشرانو څخه داسی روایات هم شته چه د امانی حکومت په زمانه کی به د عبدالخالق اخلاص استقلال امانیه د کنړ په هره حجره او دیره کی پروت او په ډیره مینه به لوستل کیده.

له دی سره سره چی د غازی امان الله خان په ژوند کی د اخلاص صاحب استقلال امانیه له چاپ څخه راوتلی و خو بیا هم د افغانی تاریخ لیکونکو لاس ته ونه رسید. خو اوس سوال دا پیدا کیږی چی ولی د اخلاص صاحب استقلال امانیه لکه څرنګه چه پکار و ونه ځلیده او له تاریخی اړخه تت پاتی شو.

دا ځکه چه !






په ۱۹۱۹ میلادي کال کې د لومړي ځل لپاره د افغانی ننګیالیو لخوا د انګریزانو د لوی امپراتوری ماتول او له پرنګیانو څخه د غازي امان الله خان تر قیادت لاندې د خپلواکۍ ګټل په نړۍ کې د پرنګیانو حیثیت ته لوی شرم او زیان ورواړاوه د نړۍ په مسلمانانو او بلخصوص د برطانوي هند په مسلمانانو کې یې د پرنګیانو پر ضد د خپلواکۍ روحیه راژوندی کړه.

نو له همدې کبله پرنګیانو د غازي امان الله خان د حکومت پر ضد په لاس وهنو او پروپاګندونو لاس پورې کړ چې په نتیجه کې هغه انګریزي استعمار چې زمونږ نیکونو زمونږ د ګران هیواد څخه د دروازې له لارې شړلی و یو وار بیا په یو بل شکل د کړکۍ له لارې زمونږ هیواد ته را داخل شو.

د وخت زمامدارانو د خپل حکومت له لومړۍ ورځې څخه د اعلیحضرت غازي امان الله خان د نوم او نښان په ورکولو کې هیڅ دریغ ونکړ.

1. د افغانستان د خپلواکۍ ورځ د اسد له ۲۸ څخه د جوزا ۷ ته را واړول شوه. په اصل کې د جوزا ۷ هغه ورځ وه په کومه ورځ چې غازي شاه امان الله خان، د اوښکو په ډکو سترګو د افغانستان سره د تل لپاره خدای پامانی وکړه.
2. د دارلامان د مانۍ نوم په دارلفنون بدل کړی شو.
3. د امانیه د مکتب نوم په استقلال تبدیل شو
4. د اماني د مکتب نوم د نجات په مکتب واړول شو
5. د استقلال د مناري څخه د غازي امان الله خان نوم حذف شو.
6. د بوستان سرای تاریخي مانۍ چیرته چې د هیواد د خپلواکۍ وروستی سند د اسد په ۲۸ د غازي امان الله خان لخوا لاسلیک شوی و، ونړول شوه.

7. د غازی امان الله خان د نژدی دوستانو په وژلو، شکنجه کولو او اذیت لاس پوری شو، د یادونی وړده چی په دی لړکی د غازی میرزمان خان کورنی هم د وخت د زمامدارانو له پنجو روغه ونه وته.

8. افغانی رسنیو ته اجازه نه وه چه د غازی امان الله خان تصویر چاپ یا د هغه په ستاینه کی څه ولیکی.

د وخت زمامدارانو پرنګیانو ته د خپلو خدمتونو په لړکی د عبدالخالق اخلاص استقلال امانیه تاریخي اثر چې یو وخت به د کونړ په هره حجره او دیره کې پروت و هم روغ پرینښود، د وخت د جابر حکومت لخوا راټول او د سکروټو خوراک شو، تر څو چی د پرنګیانو پرضد د کنړ د ولسونو د قربانیو، میړانی او د استقلال د دی بریالی جبهې نوم او نښان هم له ستهی وچ کړی. نو ځکه د اخلاص صاحب استقلال امانیه لکه څرنګه چی په کار وو د تاریخ په پاڼو کی ونه ځلیده، د تاریخ لیکونکو له سترګو پناه شو د هیواد بچیو ته په ښوونځیو کی په درسی نصاب کی شامل نه شوه او تت پاتی شو. چه د وخت زمامداران د افغانستان د تاریخ په










وړاندی په نه بخښونکی خیانت مرتکب شول.

که د وخت زمامدارانو د مولانا عبدلخالق اخلاص په لاس لګیدلی شمع د لسیزو لپاره مړه وساتله، خو د خوښی ځای دی چی زمونږ د هیواد د ستر لیکوال، محقق او تاریخ پوه محترم استاد حبیب الله رفیع په لاس د اخلاص صاحب د استقلال امانیه مړه شمعه یو وار بیا د استقلال د څلورمی جبهی په نوم بله شوه.

محترم استاد رفیع صاحب د دغه کتاب نیمګړې کاپې تر لاسه کولو وروسته د یوې اوږدې سریزې، لمنو، سمونو او نښلونو سره په ۱۳۶۵ کال کې په پیښور کې چاپ کړه، چې دا چاپ هم ډیر ژر نایاب شو.

دا کتاب یو ځل بیا په ۲۰۰۵ م کال کې په پیښور کې چاپ او د څلورم ځل د پاره په ۱۳۸۹ کال کې د اعلیحضرت غازي امان الله خان د پنځوسم تلین د سیمینار په ویاړ د بیهقي د کتابخپرولو د ریاست لخوا په کابل کې چاپ شو.

د اخلاص صاحب د استقلال امانیه یوازینی اصلی نسخه نن د لندن د موزیم د بریټش کتابتون په 58 Fنمبر المارۍ کی ساتل کیږی. دغه مکمله او اصلي کاپي د لومړي ځل لپاره د محترم ډاکتر عبدالرحمن زمانی په زیار او هڅو په لندن کی بیا وموندل شوه. چه بیا وروسته ما ددی اصلی نسخی یوه فوتوکاپی محترم استاد رفیع صاحب ته وسپارله.

**سیف الامان**

د خپلواکۍ له جګړې وروسته اخلاص صاحب د کونړ دنورو هیوادپالو ځوانانو په شان د ځوان پاچا غازي امان الله خان له مترقی پروګرامونو څخه ملاتړ وښود او په سنګر کې یې هم د اماني نهضت د پلویتوب دپاره د قلم په څنګ کې توره هم راواخیسته. هغه که له یوې خوا په خپل قلم د ځوان پاچا د مترقي پروګرامونو څخه ملاتړ څرګند کړی و، او تل به یې هغه خلک غندل چې د پردیو په لمسون یې خپل وطن ورانوه، نو له بلې خوا یې په جنوبي کې د خوست د ګوډ ملا په وړاندې د اماني نهضت او دولت نه د دفاع په خاطر د کونړ دولسي لښکر په ملګرتوب وسله راواخیسته. سیف الامان د تورې او قلم د خاوند اخلاص صاحب یو منظوم بل تاریخي اثر دی چې په ۱۳۰۴ لمریز کال د ثور د میاشتې په ۲۸ بشپړ شوی، او د همدغه جریان د سترګو د لیدلو حال دئ. سیف الامان د جنوبي د ملا عبدالله مشهور په ګوډ ملا او د ملا عبدالرشید تر مشرۍ لاندې د اماني حکومت پر ضد بغاوت او د انګریزانو د دسیسو په شنډولو کې د غازي میر زمان خان تر مشرۍ لاندې د کونړ د خلکو د تورو، قربانیو او سرخیندلو د ونډې او کارنامو تفصیل بیا هم د شعر په ژبه بیانوي.



سیف الامان په ۱۱۲ مخونو مشتمل دی چې په روانه ساده او خوږه ژبه لیکل شوی. سیف الامان چاپ شوی ندی او قلمي نسخې یې ډیرې نا یابه دي.

د اخلاص صاحب سیف الامان د غازي امان الله خان د حکومت ورځې د هیواد په تاریخ کې د عدل او انصاف ورځې ګڼي، چې افغانانو پکې د لمړي ځل لپاره د ارامۍ او اسودګۍ ساه وکښله.

سیف الامان په بل ځای کې د پرنګیانو مداخلې ته د هیواد په جنوب کې اشاره کوي. انګریزانو غوښتل چې د سردار محمد یعقوب خان ځوی عبدالکریم خان څوک چې په برطانوي هندوستان کې اوسیده د غازي امان الله خان پر ځای کښینوي.

سیف الامان زیاتوي چې د سردار یعقوب خان ځوی عبدالکریم د ګوډ ملا د ملاتړ او د بغاوت کوونکو د رهبرۍ لپاره افغانستان ته راغلی و. د ګردیز بالاحصار یې چې په هغه زمانه کې یوه ډیره مضبوطه قلا وه او لوی برجونه یې درلودل د څلورو خواوو څخه تر حملې لاندې راولې، سړکونه ورانوي او د ټیلفون تارونه او ستنې له منځه وړې ، ولسي او حکومتي تاسیسات لوټ او تالا کوي.

د بغاوت کوونکو په کړنو غازي امان الله خان زیات دردیږي او ددوی کړنې ټولې د انګریزانو په لمسون بولي.

سیف الامان په ۴۷ او ۴۸ پاڼو کی د غازي میرزمانخان تر مشرۍ لاندې د کونړ د دوه زره کسیز لښکر داسې یادونه کوی:

چې مخلص د ده دوستان و په هر ځای کې

په اسمار، شیګل په چغلسرای کې

www.ZamaniFamily.org

www.ZamaniFamily.com

Info@zamaniFamily.org

You Tube Channel

په کټار او په ګنبیر او په ګنجګل کې

په نرهنګ په سرکانړو په هر محل کې

د پشد او د کوټکې د نو آباد

خپل دوستان یې کړل راټول با اعتماد

د غونډو او د باډیل ښکلي ځوانان هم

شازلمي د دیوه ګل دلیر زمریان هم

ښه بسته مظبوط لښکر یې اراسته کړ

د ګلزار تازه ګلونه یې دسته کړه

چې لښکر شه اماده په ښه قانون

د خان زړه شه اسوده په ښه مضمون

هم یې ورور خان محمد خان تکړه تیار

هم ځامن دده محکم شو په اختیار

مشر زوی دده دلبند شیر محمد خان

دوه یې نور عصمت الله ګل محمد خان

هم دوه خواهر زادګان په هسې شان

لعلو جان محمد امین هم شو روان

نور چې ځوک انګشت نما وه په کونړ کې

ټول روان شو له اخلاصه په لښکر کی

په منزل منزل روان په جم و جوش شو

د باغیانو تباهۍ ته په خروش شو

هم رواني د اسونو قطارې شوې

چې سورې پرې د مسینو نغارې شوې

د سرنا د بیم باجو ورپکې شور وه

د شپیلو د ترنګونو ډنګ ټکور وه

هم وهلی پکې غبرګې نغارې شوی

هم وئیلي به خوږې خوږې مصرې شوي

په دا هسې ارایش باندې روان وو

چې حیران یې تماشې ته ناظران وه

چې حیران یې تماشې ته ناظران وه

د اروا ښاد اخلاص صاحب روح دې ښاده اوسي.

(پای)